# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د فبرورۍ ۱۹مه | دویم کال | ۳۳۷مه ګڼه


خبره
۴ مخ



## صبغت الله مجددي

ښاغلي مجددي د افغانستان «اسلامي دولت» د لومړني ولسمشر په توګه د دوو میاشتو لپاره دنده ترسره کړه او د اسلام اباد د هوکړې له مخې یې واک د جمعیت ګوند مشر برهان الدین رباني ته وسپاره.

## زلمی خلیلزاد: د سولې لپاره باید یو رښتینی او ملي مرکچي ټیم جوړ شي



۳

د سولې په روانو خبرو کې د پاکستان رول څه دی؟
۲ مخ

ځنګه په کاري چاپېريال کې بریالي واوسو؟
۵ مخ

## د تورخم له لارې ۱۹،۸ سلنه صادرات ډېر شوي دي



د ننګرهار د اقتصاد ریاست چارواکي وايي، د تورخم له لارې بهرنيو هېوادونو ته د صادراتو کچه ۱۹،۸ سلنه لوړه شوې او په روان کال کې د ۱۲٦ ميلياردو افغانيو په ارزښت، بهرنيو هېوادونو ته توکي صادر شوي چې د تېر په پرتله ۱٦ سلنه زياتوالی پکې راغلی دی.

د دغه ولايت د اقتصاد رييس غلام الله افغانيار ويلي، د تېر ۱۳۹۷ مالي کال لپاره ننګرهار ولايت ته د ۳،۵ ميلياردو افغانيو په ارزښت، ۲۵۹ پروژې په ملي بودجه کې منظور شوې وې چې د هغې له ډلې ۱٦۷ تکميل شوې، ٦۸ تر کار لاندې دي، ۱۱ د تدارکاتو کمېسيون کې دي او ۱۳ يې ولاړې دي.

نوموړي ويلي، د ننګرهار له لارې د بېلابېلو ولايتونو وچه او تازه مېوه، سبزيجات، د څارويو څرمنې او ځينې نور توکي صادرېږي چې پر پاکستان سربېره، د کراچۍ بندر له لارې نورو هېوادونو ته هم لېږدول کېږي.

## اتمر: د ټاکنو د ځنډېدو په صورت کې دې سرپرسته اداره جوړه شي

په ټاکنيزو کمېسيونونو کې له وروستيو تحولاتو سره هممهاله، د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو د ځنډېدو په تړاو ځينې جريانونه اندېښمن دي.

د ولسمشريزو ټاکنو نوماند حنيف اتمر تېره ورځ په کابل کې يوې خبري ناستې ته د وينا پرمهال ويلي، که چېرې د ولسمشرۍ راتلونکې ټاکنې د مختلفو بهانو له امله ځنډېږي، نو د حکومت چارې بايد يا د اساسي قانون له مخې تمديد او ياهم د يوې سرپرستې ادارې له لوري پرمخ يوړل شي.

اتمر ويلي: « ايا تاسو څه فکر کوئ چې اوسنی حکومت به هغه وخت شفافې او عادلانه ټاکنې ترسره کړي، په داسې حال کې چې ولسمشر غني په خپله هم ځان نوماند کړی؟ د اساسي قانون له مخې د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو له نېټې وړاندې د اوسني ولسمشر وخت پای ته رسېږي، نو سرپرست حکومت بايد جوړ شي».

اتمر د حکومت له خوا د مشورتي لويې جرګې د جوړېدو هرکلی کړی او ويلي دي، چې د يادې جرګې د جوړېدو ټوله اجنډا او ميکانېزم دې له افغان سياستوالو سره شريک شي.

د نوموړي په خبره، ياده جرګه دې په صادقانه ډول جوړه شي او له مشورتي لويې جرګې څخه دې د شخصي او سياسي اهدافو لپاره استفاده نه کېږي.

د جمهوري رياست ټاکنو ته دغه نوماند چې د مسکو ناستې له ګډونوالو څخه هم و، د مسکو ناسته ګټوره بللې او ويلي يې دي چې د يادې ناستې ترسره کېدل د بين‌الافغاني مذاکراتو لپاره فرصت برابر کړ او طالبان يې دې ته وهڅول، چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته نسبي چمتووالی وښيي.

## د سولې عالي شورا: هيله من يو چې د قطر راتلونکې ناسته به يوه پايله ولري



۲ مخ

## اداره ارگان‌های محلی: بحث ارتقاء برخی ولسوالی‌ها به ولایات قطعی نشده‌است



اداره مستقل ارگان‌های محلی افغانستان این را تأیید می کند که بحث‌ها در خصوص ایجاد ولایت‌های جدید میان این اداره و ارگ جریان دارد، اما می گوید تا حال در مورد کدام منطقه و یا ولسوالی که به ولایت ارتقاء یابد، تصمیم قطعی اتخاذ نشده‌است. پیش از این برخی از رسانه‌ها در گزارش‌های شان گفته بودند که حکومت شماری از ولسوالی‌ها را به ولایت‌ها مبدل کرده‌است.

اما سید شاه سقیم سخنگوی اداره مستقل ارگان‌های محلی گفته است که این گزارش‌ها بی‌اساس اند و تا حال در مورد کدام منطقه و یا ولسوالی تصمیم قطعی گرفته نشده‌است.

وی افزوده است: «بحث‌ها و مطالعات بین اداره مستقل ارگان‌های محلی و ارگ پیرامون این مسئله جریان دارد، هیچ حقیقت ندارد گزارش‌های که نشر می‌شود که در فلان ولایت فلان منطقه یا فلان ولسوالی به ولایت مبدل می‌شود. هنوز اداره مستقل ارگان‌های محلی و در مجموع حکومت به هیچ نتیجه نرسیده‌است و هیچ ولسوالی را مشخص نکرده است که به ولایت تبدیل شود.» وی گفته است که این کار از سوی حکومت با در نظرداشت خواست مردم، موقعیت منطقه و ولسوالی، نفوس و امکانات حکومت انجام می‌شود که تلاش‌ها در این خصوص ادامه دارند.

برخی رسانه‌ها در گزارش‌های شان گفته بودند که حکومت ولسوالی‌های پامیر در بدخشان، جاغوری در غزنی، شینوار در ننگرهار، تیوره در غور، اندخوی در فاریاب، شیندند و شهرک اسلام قلعه در هرات را به ولایت‌های مستقل ارتقاء می‌دهد.




Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دريـځ

## د سولې په روانو خبرو کې د پاکستان رول څه دی؟

پاکستاني چارواکي بيا بيا وايي چې د افغان سولې روانه پروسه د دوی په مرسته او همکارۍ مخ ته ځي. دوی دغه راز ويلي چې له همدې امله امريکا ترې خوشاله ده او اوس پر پاکستان له دې امله نيوکې نه کوي. د امريکا ځانگړي استازي زلمي خليلزاد هم ويلي چې د سولې په پروسه کې د پاکستان رول مهم او هڅه کوي چې مثبت رول ولوبوي. له بله اړخه افغان حکومت د پاکستان په اړه تونده ژبه کاروي. د دې ترڅنگ پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د پاکستان پر رول نيوکې کړې دي او ويلي يې دي چې افغانان نه غواړي د سولې تر نامه لاندې افغانستان د پاکستان تر نفوذ لاندې راشي.

دا روښانه ده چې پاکستان د سولې په روانو خبرو کې دخيل دی او په دې برخه کې مرسته او مزاحمتونه دواړه يو ځای کوي. له بنده د ملا برادر خوشې کول، ځينو غونډو ته د طالب استازو د سفر زمينه برابرول او ځينې نور مسايل يې مرستې يادولی شو، خو مزاحمتونه يې هم څرگند دي. د طالبانو ځينو مرکچيانو ته لا هم پاکستان اجازه نه ورکوي، چې قطر ته ولاړ شي چې ښه بېلگه يې ملا برادر دی.

پر همدې اساس ويلی شو چې پاکستان د امريکا تر فشار لاندې دی او له همدې امله همکاري کوي، خو پاکستان بيا بيا هڅه کوي چې په دې پروسه کې امتياز تر لاسه کړي. د امريکا له خوا پاکستان ته د امتيازاتو د ورکړې خبره شوې ده، خو دا چې په افغانستان کې څه ورکول کېږي، لا معلومه نه ده. پاکستان د سولې په پروسه کې هغه وخت همکاري کوي چې ډاډه شي، د نورو امتيازاتو ترڅنگ په افغانستان کې هم خپلو اهدافو ته رسېږي. که پاکستان خپلو ټولو اهدافو ته ونه رسېږي، ځينې مهم اهداف بايد تر لاسه کړي چې په بدل کې يې د سولې په برخه کې همکاري وکړي. که پاکستان ته هېڅ ور نه کړل شي او هغه څه تر لاسه نه کړي چې په افغانستان کې يې غواړي، نو د سولې په پروسه کې به همکاري ونه کړي.

د سولې په روانو خبرو کې د افغانانو ستره اندېښنه همدا ده، چې په دې لوبه کې پاکستان ته څه ورکول کېږي، پاکستان څه کوي او د پاکستان رول څه دی. په افغانستان کې خلک درک کوي چې سوله د پاکستان له مرستې پرته سخته ده، خو دا هم درک کوي چې پاکستان هېڅکله نه غواړي افغانستان ته سوله او ثبات را وگرځي او که دا کار غواړي هم، نو په بدل کې يې ډېر امتيازات بايد تر لاسه کړي. له همدې امله د پاکستان پر رول او اهدافو شکونه شته.

د افغانستان حکومت او سياستوالو ته پکار ده چې په دې چاره کې جدي و اوسي. دوی بايد امريکا، طالبانو او نورو لورو ته واضح پيغام ورکړي، چې دوی به په افغانستان کې د پاکستان د نامشروعو گټو پر وړاندې ودرېږي او پرې به نه ږدي چې د سولې په معامله کې د افغانستان ملي گټې او ستر ارزښتونه قرباني شي.

## د سولې ولسي حرکت: هڅه کوو چې د جگړې ښکېلې خواوې اوربند وکړي

د سولې ولسي حرکت ويلي، دوی هڅه کوي چې د جگړې ښکېلې غاړې اوربند ته غاړه کېږدي.

دغه کاروان چې دا مهال په کونړ کې دی، په بېلابېلو ولسواليو کې د پراخو غونډو په جوړولو سره خلک دې ته هڅوي، چې له دوی سره يوځای شي.

د دغه حرکت غړي شاه‌ولي خان سالارزي ازادي راډيو ته ويلي، چې د سولې په مخ کې هر ډول خنډونه بايد له منځه يوړل شي.

نوموړي ويلي: «موږ د سولې غوښتونکي يو او د سولې په برخه کې هر خنډ بايد له منځه ولاړ شي. دا پردۍ جگړه ده او نور افغانان سولې ته اړ دي او له ښکېلو ټولو غاړو هم غوښتنه کوو چې اوربند وکړي، دا جگړه نور موږ نه شو زغملی.»

د سالارزي په خبره، د سولې ولسي حرکت غړي به له کونړ وروسته ننگرهار او لغمان ته ولاړ شي.

دغه حرکت وروسته له هغه رامنځته شو چې په هلمند کې په يوه خونړي ځانمرگي بريد کې ملکيانو ته مرگ ژوبله واوښته.

د ياد حرکت غړي له هلمنده پلي کابل ته راغلل، د ځينو بهرنيو سفارتونو مخې ته يې پرلت وواهه او له شاوخوا دوو مياشتو وروسته لوڅې پښې او پلي بلخ ته ولاړل.

د دوی پيغام هر ځای ته په رسېدو دا و، چې په افغانستان کې جگړه د پرديو د گټو لپاره روانه ده او قرباني يې افغانان دي.

د سولې د ولسي حرکت غړو ويلي، په کليو، جوماتونو او ښوونځيو کې د سولې لپاره له خلکو، قومي سپين ږيرو او ښوونکو سره ناستې لري.

په ورته وخت کې د مشرانو جرگې غړي هم د سولې د ولسي حرکت له هڅو هرکلی کوي او اغېزمنې يې بولي.

د دې جرگې دويم مرستيال محمد اصف صديقي ويلي: «له دغه ولسي حرکته ملاتړ کوو او افغانان بايد په دغه حساس وخت کې سره يوځای شي او په گډه د سولې غږ اوچت کړي، که چېرې افغانان سره يو شي، لويه لاسته راوړنه به ولرو، دا تاريخ ثابت کړی».

دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې افغان حکومت په وار وار ويلي، چې د افغانستان د سولې په اړه په نړيواله، سيمه ييزه او ملي کچه اجماع رامنځته شوې او له وسله‌والو طالبانو يې غوښتي، چې د سولې خبرو ته غاړه کېږدي.

د سولې د ولسي حرکت غړو ويلي، چې دوی به له ټولو افغانانو وغواړي، څو له جگړې لاس واخلي او د خپل مسووليت مطابق د سولې لپاره کار وکړي.

## د سولې عالي شورا: هيله من يو چې د قطر راتلونکې ناسته به يوه پايله ولري



د سولې عالي شورا ويلي، د طالب استازو او امريکايي پلاوي ترمنځ د قطر له راتلونکې ناستې د ښو پرمختگونو هيله لري.

په داسې حال کې چې په اسلام‌اباد کې د طالب استازو، پاکستاني او امريکايي چارواکو ترمنځ د دوشنبې د ورځې ليدنه او خبرې لغوه شوې او ټاکل شوې چې د فبرورۍ په ۲۵مه د دوی مرکچي پلاوی په قطر کې له زلمي خليلزاد سره وگوري. د سولې عالي شورا ويلي چې د سولې په خبرو کې دقت مهم دی، نه ژر يا په ځنډ سره نتيجې ته رسېدل.

د دې شورا مرستيال عطاالرحمن سليم ازادي راډيو ته ويلي چې د قطر له را روانې غونډې د ښو پرمختگونو تمه لري.

نوموړي ويلي: «هيله من يو چې يوې نتيجې ته ورسېږي، طالبان بايد په افغانستان کې چې کوم حقايق دي، هغه په پام کې ونيسي او پر بنسټ يې د افغانستان له حکومت سره خبرو ته چمتو شي. زما په اند، دا خبرې که وخت ډېر واخلي که کم، دا هم مهم نه دی، مهم دا دی چې په تدبير سره او له پروگرام سره سمې مخته ولاړې شي.»

سليم ويلي چې د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت استازي زلمي خليلزاد هم له دوی سره کتلي او د سولې خبرو د روان بهير په اړه يې هيله څرگنده کړې ده.

ولسمشرۍ ماڼۍ هم د يوې اعلاميې په خپرولو سره ويلي چې خليلزاد وړمه ورځ له ولسمشر غني سره کتلي او د سولې د وروستيو پرمختگونو په اړه يې ورسره خبرې کړې دي.

په اعلاميه کې راغلي، افغان ولسمشر خليلزاد ته ويلي چې موږ د دې غوښتونکي يو چې طالبان او پاکستان خپلې گډې اړيکې موږ ته روښانه کړي، څو پوه شو چې د اړيکو بنسټ يې څه دی.

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو وړمه ورځ رسنيو ته په استول شوې اعلاميه کې ويلي، چې په اسلام‌اباد کې له پاکستاني او امريکايي چارواکو سره د دوی غونډه لغوه شوې ده.

طالبانو د دې غونډې د لغوه کېدو لامل د ملگرو ملتونو او امريکا په تور لېست کې د دوی د ځينو استازو د نومونو موجوديت ښودلی دی.

ټاکل شوې چې د روانې ميلادي مياشتې په ۲۵مه، طالب استازي او امريکايي پلاوی يو وار بيا په قطر کې سره وگوري.

په دې وروستيو کې د افغان سولې په اړه هلې ځلې تر بل هر وخت چټکې شوې دي، خو هغه څه چې په دې برخه کې مهم گڼل کېږي، هغه د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې دي، چې لا تر اوسه نه دي پيل شوې.

## ولسمشر غني: طالبان او پاکستان دې خپلې اړيکې روښانه کړي



ولسمشر غني ويلي، طالبان او پاکستان بايد خپلې اړيکې روښانه کړي چې پر کومو مناسباتو ولاړې دي.

هغه دغه راز ويلي چې له ترورېستي او جرمي اقتصادي ډلو سره هم بايد د طالبانو اړيکې څرگندې شي.

له ارگه په خپره شوې خبرپاڼه کې ويل شوي چې غني دغه څرگندونې وړمه شپه په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د افغان سولې لپاره د امريکا له ځانگړي استازي زلمي خليلزاد سره د ليدنې پرمهال کړې دي.

غني په دغه ناسته کې ويلي چې په دې وروستيو کې د سولې اړوند زيات کليدي مسايل روښانه شوي او زياته کړې يې ده، چې تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره گډو هڅو ته اړتيا ده.

نوموړي زياته کړې: «طالبان دې له پاکستان او پاکستان دې له طالبانو خپلې اړيکې واضح کړي، چې پر کوم اساس ولاړې دي. د دې ترڅنگ دې له ترورېستي شبکو او جرمي اقتصاد سره د طالبانو اړيکې هم معلومې شي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې افغان حکومت د پاکستان په بلنه، هغه هېواد ته د طالب استازو د سفر په اړه ملگرو ملتونو ته شکايت کړی و چې له همدې کبله بيا دغه ناسته وځنډېده.

د طالب استازو او پاکستان د صدراعظم دې ليدنې په اړه چې ټاکل شوې وه تېره ورځ تر سره شوې وای، طالبانو رسنيو ته په استول شوې اعلاميه کې ويلي، چې دغه غونډه د تور لېست له امله لغوه شوې ده.

له ارگه په خپره شوې اعلاميه کې راغلي، چې غني په يوې نوې او څرگندې کاري طريقې له خليلزاد سره موافقې ته رسېدلی، چې د هغې په چوکاټ کې معلومات شريک کېږي او د ځانگړې اجنډا په هکله به يې مشورې تر سره او په رڼا کې به يې پرېکړه کېږي.

سرچينې زياته کړې چې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړي استازي زلمي خليلزاد هم ويلي، چې د نوې کاري لارې چې په يو څرگند چوکاټ کې رامنځته شوې، په اساس به يې د سولې روان بهير مخته يوسي.

خليلزاد ويلي: «زموږ هدف دا نه دی چې له افغانستان څخه د وتلو لار پيدا کړو، بلکې هدف مو په افغانستان کې د تلپاتې سولې ټينگېدل او په افغانستان کې د سولې تر ټينگېدو وروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو پراختيا تر بحث لاندې ونيول شي».

نوموړي زياته کړې چې له طالبانو سره يې په ټولو غونډو کې پر څلورو مسايلو، له القاعدې سره د طالبانو پر اړيکو، په افغانستان کې د امريکايي سرتېرو پر شتون، له افغان حکومت سره د طالبانو پر مخامخ خبرو او سرتاسري اوربند په اړه هر اړخيزې خبرې کړې دي. خليلزاد ويلي، څو چې پر دغو څلورو مسايلو موافقه ونه شي، په خبرو کې پرمختگ ورته نه شي ويلی.


## فيفا؛ يوسف کارگر د فوټبال فدراسيون سرپرست ټاکلی دی

د فوټبال نړيوال فدراسيون يا فيفا، د يوسف کارگر او فاضل شهاب نومونه په خپله رسمي وېبپاڼه کې د فوټبال فدراسيون سرپرست او سکرتر جنرال په توگه خپاره کړي دي.

وروسته له دې چې د افغانستان د فوټبال د ښځينه ملي ټيم پر غړو د جنسي تېري او ځورونې ادعاوې خپرې شوې، د يادې ادارې د پخواني مشر کرام الدين کريم دنده د دريو مياشتو لپاره وځنډول شوه.

که څه هم د يادو کسانو په اړه بشپړ معلومات نه دي خپاره شوي، خو فيفا ويلي چې يادې گومارنې يې د فوټبال فدراسيون د چارو د پرمخ بېولو لپاره کړې دي.

په همدې حال کې يوسف کارگر امريکا غږ



ته ويلي: «د افغانستان د فوټبال فدراسيون د اساسنامې پر بنسټ، د فدراسيون د نشتون يا لرې کېدنې په حالت کې، د فدراسيون مرستيال د سرپرست په توگه ټاکل کېدی شي او چارې پر مخ يوسي. له دې وروسته مې چې دنده د لويې څارنوالۍ له خوا رفع تعليق شوه دا موضوع مې په يوه رسمي مکتوب کې فيفا ته واستوله.»

کارگر له دې مخکې د فوټبال د ملي لوبډلې د روزونکي او د فدراسيون د فني مرستيال په توگه دندې ترسره کړې دي.

د فيفا انضباطي کمېټې ويلي وو چې په فوټبال فدراسيون کې پر ښځينه لوبغاړو تر جنسي ادعاوو وروسته، د تېر زېږديز کال د ډسمبر په ۱۲مه يې اعلان کړی و چې کرام الدين کريم په ملي او نړيواله کچه، د فوټبال په اړه له هر ډول فعاليت نه منعه دی.

دغه ادعاوې لومړی ځل د گارډين ورځپاڼې له خوا خپرې شوې، چې له هغه وروسته يې په افغانستان کې پراخ غبرگونونه راوپارول.

کريم ياد تورونه رد کړي او دا يې د خپل ځان په اړه د نورو په لاس جوړه شوې توطئه بللې ده.

دا په داسې حال کې ده چې له څو اونيو را په دېخوا، د لويې څارنوالۍ څېړنې روانې دي او د ياد فدراسيون د رهبرۍ څلور غړي يې د څېړنو تر پايه پورې ممنوع الخروج کړي دي.

# زلمی خلیلزاد: د سولې لپاره باید یو رښتینی او ملي مرکچي ټیم جوړ شي



په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره تر هر څه وړاندې یوه ملي او رښتیني مرکچي ټیم ته اړتیا ده. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد د سولې په اړه په خپلو تازه څرگندونو کې ویلي، چې افغان سولې ته تر هر څه وړاندې یو ملي، رښتینی او له ټولو اړخونو جوړ مرکچي پلاوی اړین دی. نوموړي چې پرون یې له طلوع نیوز سره خبرې کولې ویلي، که جوړېدونکی ټیم، رښتینی، ملي او ټول شموله نه وي، نو د سولې لپاره به گټور تمام نه شي.

سره له دې چې افغان حکومت د روان کال په کب میاشت کې د سولې په اړه د مشورتي لویې جرگې د جوړولو خبره کړې ده، خو زلمی خلیلزاد وایي چې تر لویې جرگې وړاندې باید ملي مرکچي ټیم جوړ کړل شي او لویه جرگه دې دغه ټیم په مذاکراتو کې خپل استازی وبولي او واکونه دې ورکړي. د زلمي خلیلزاد په خبره، په دغه ټیم کې باید د حکومت په گډون د ټولو سیاسي اړخونو استازي حاضر وي او دوی دې د ډلو د گټو پر ځای ملي او دایمي گټو ته ارزښت ورکړي.

زلمي خلیلزاد همدا راز د ولسمشر غني او افغان حکومت پر خلاف د مسکو د غونډې هرکلی کړی دی. د نوموړي په خبره، هره هغه هڅه چې افغانان سولې ته رسولی شي، هیله بښونکې ده او دوی په ښه سترگه ورته گوري. نوموړي د مسکو د غونډې پایلې ته هم هیله مندي ښودلې ده.

زلمي خلیلزاد د طالبانو په اړه ویلي، چې له دې ډلې سره د روانې میلادي میاشتې په ۲۵مه بیا ویني او پر هغو طرحو او پلانونو خبرې کېږي، چې په مخکینیو خبرو کې مطرح شوي دي. خلیلزاد وایي، له طالبانو سره یې مهمې خبرې کړې دي، خو دوی ورته ویلي چې د ځینو مسایلو په اړه پرېکړه نه شي کولی، خو په اړه به یې له خپلو مشرانو سره مشورې کوي. نوموړی وایي: «له طالبانو سره مو پر مهمو مسایلو خبرې کړې دي. ځینې طرحې او پلانونه مو په خبرو کې مطرح شوي دي. دوی ویلي چې د ځینو مسایلو په اړه د پرېکړې واک یې له مشرانو سره دی. طالب استازي به له مشرانو سره خبرې کوي، نو دا چې په راتلونکې غونډه کې کومو پایلو ته رسېږو، معلومه نه ده.»

خلیلزاد په خپلو خبرو کې دا هم ویلي چې طالبان په واک کې شریکېدو ته لېواله دي، خو په دې اړه خبرې او مذاکرات یوازې افغان حکومت کولی شي. د خلیلزاد په خبره «طالبان وایي چې دوی د خپل حکومت پر مهال بریالي نه وو. په واک کې شرکېدو ته لېواله دي. دوی د سولې خبرو ته هم ډېر لېواله دي، خو دا چې څه ډول سوله غواړي نه ده واضح شوې. ډېر مسایل دي چې یوازې افغان حکومت یې په اړه پرېکړه کولی شي. نو ځکه دغه مسایل باید له افغان حکومت سره مطرح شي.»

د افغان سولې په اړه د امریکا ځانگړي استازي دغه راز ویلي، چې طالبان باید له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي، خلیلزاد وایي چې طالبان له حکومت سره له مخامخ خبرو مخ اړوي، چې دا د سولې په خبرو کې لوی خنډ دی. خلیلزاد دغه راز ویلي چې په حکومت کې سیاسي اختلافونه، د سولې په اړه اختلافونه، په سیمه کې روان تحولات هم هغه څه دي، چې د سولې په لار کې خنډ گرځېدلي دي.

نوموړي په خپلو خبرو کې د پاکستان په اړه هم ځینې څرگندونې کړې دي. خلیلزاد ویلي چې پاکستان د افغانستان په سوله کې مهم رول لوبولی شي. دده په خبره، له پاکستان سره د امریکا او همدا راز نورو هېوادونو مرستې په دې پورې تړلې دي، چې په افغان سوله کې څومره رښتیني دي. هغه زیاته کړې، د سعودي عربستان له حکومت سره یې هم په دې اړه خبرې کړې دي، چې که پاکستان په افغان سوله کې رښتیني گام نه اخلي، نو باید د سعودي حکومت له دغه هېواد سره مرسته ونه کړي.

## کوچیان: په بلخ کې مو ۸۰ سلنه څړځایونه د زورواکو له خوا غصب شوي دي

په بلخ کې کوچیانو ویلي، ۸۰ سلنه څړځایونه یې د سیمه ییزو زورواکو له خوا غصب شوي چې ورسره یې ٦۰ سلنه مالداري هم راکمه شوې ده.

دوی ویلي، په دې برخه کې یې څو ځله له حکومت څخه د مرستې غوښتنه کړې، خو په خبره یې چې حکومتي چارواکو د یادې ستونزې د حل په برخه کې تر اوسه هېڅ ډول عملي اقدامات نه دي کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د رسمي معلوماتو له مخې، اوسمهال په بلخ کې شاوخوا ۲۲ زره کورنۍ کوچیان ژوند کوي، چې خپل ژوند د مالدارۍ له لارې پر مخ بیایي.

د بلخ د کوچیانو رییس غلام فاروق عبیدي پژواک ته ویلي، چې د کوچیانو ډېری څړځایونه او مېنې د سیمه ییزو زورواکو له خوا غصب شوي دي.

هغه زیاته کړې چې یاد زورواکي له خپل زور او ټوپک څخه په استفادې، په لرې پرتو سیمو کې عمومي مالچرونه نیولي او کروندې یې پرې کرلې دي.

هغه ویلي: «په بلخ کې د صدمېش په نوم یوه لویه دښته ده، چې له ډېر پخوا راهیسې د کوچیانو مېنې پکې ودانې وې او خپل مالونه به یې پکې څرول، خو له بده مرغه په وروستیو کلونو کې یو کوچی هم زړه نه ښه کوي، چې هلته ورشي؛ ځکه یادې سیمې اوس له ټوپکوالو سره دي».

عبیدي ویلي چې د څړځایونو د غصب په تړاو هره ورځ ورته د کوچیانو سرخېلان مراجعه کوي او د مرستې غوښتنه کوي. د هغه په خبره، دوی یادې ستونزې له مرکزي ادارې سره شریکې کړې، خو د دغو ستونزو د حل په موخه شوې ژمنې لا نه دي عملي شوې.

د بلخ د کوچیانو رییس دا هم ویلي، چې یاد زورواکي قوي ملاتړ لري او له همدې ملاتړ څخه په استفادې، د خلکو عامه شتمنۍ او د کوچیانو مالچرونه غصبوي.

د چمتال ولسوالۍ د کوچیانو سرخېل حاجي محمد امین پژواک ته ویلي، چې د پخوا کلونو په پرتله یې مالداري نږدې ٦۰ سلنه راکمه شوې ده.

نوموړی ویلي چې له یوې خوا وچکالۍ ځپلي دي او له بلې خوا یې څړځایونه غصب شوي چې له امله یې مالداري هم راکمه شوې ده.

بلخوا په شمال زون کې د کوچیانو د سراسري شورا رییس سیدمحمد حریق هم ویلي، چې د بلخ په گډون په ټولو شمالي ولایتونو کې د کوچیانو د ژوند د بهبود لپاره هېڅ ډول کار نه دی شوی.

هغه زیاته کړې چې لا هم د کوچیانو څړځایونه د سیمه ییزو زورواکو له خوا غصب کېږي، خو هېڅوک نشته چې مخنیوی یې وکړي.

هغه زیاته کړې: «سره له دې چې د کوچیانو ستونزو ته د رسېدو لپاره لوی ریاست موجود دی، خو بیا هم ورځ تر بلې د دغه قشر ستونزې زیاتېږي، مالچرونه یې د زورواکو له خوا نیول کېږي او ډېرو وړو ستونزو ته یې هم رسیدگي نه کېږي».



د بلخ سیمه ییزو چارواکو هم ویلي چې د کوچیانو د څړځایونو د غصب او نورو ستونزو په تړاو معلومات لري.

د بلخ د والي ویاند منیر فرهاد ویلي چې په لرې پرتو سیمو کې د کوچیانو د څړځایونو د غصب په تړاو ورته شکایتونه رسېدلي دي.

هغه زیاته کړې، چې په دې تړاو د بلخ ولایت مقام ټولو ولسوالانو ته لارښوونه کړې چې د کوچیانو د څړځایونو د غصب مخه ونیسي.

## سعودي: چمتو یو چې د هند او پاکستان ترمنځ د روان کړکېچ د حل لپاره منځگړیتوب وکړو

سعودي عربستان په اسلام‌اباد کې په یوه مهمه سرمشریزه کې د هند او پاکستان ترمنځ د روان کړکېچ په حل کې د منځگړیتوب ژمنه کړې ده.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر عادل‌الجبیر تېره ورځ په اسلام‌اباد کې یوې خبري غونډه ته ویلي، چې دواړه هېوادونه د خپلو اختلافونو د حل لپاره خبرو اترو ته اړتیا لري.

نوموړي ویلي، سعودي عربستان غواړي چې د هند او پاکستان ترمنځ په روان کړکېچ کې کموالی راشي او د دې لانجې د حل لپاره باید سوله ییزې لارې ولټول شي.

د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر چې له سعودي ولیعهد محمد بن سلمان سره د اسلام‌اباد په سفر کې یوځای دی، تېره ورځ د شهزاده د سفر په دوام هند ته لاړ.

د سعودي ولیعهد به نن په نوي ډیلي کې له صدراعظم نرېندرا مودي سره وگوري او وروسته به چین ته هم ولاړ شي .

دا په داسې حال کې ده چې د هند تر ولکې لاندې کشمیر کې د تېرې اونۍ د پنجشنبې د ورځې له برید وروسته، چې په نتیجه کې یې د هند د ملېشه پولیسو له ۴۰ زیات سرتېري ووژل شول، د نوي ډیلي او اسلام‌اباد په اړیکو کې کړکېچ زیات شو.

له دې پېښې وروسته چې په څو لسیزو کې تر ټولو خونړی برید بلل شوی، هند د نړۍ په کچه د ډیپلوماټیک ملاتړ د ترلاسه کولو هڅې پیل کړې دي او ژمنه یې کړې چې پاکستان به په نړیواله ټولنه کې په ډیپلوماټیک ډگر کې منزوي کړي.

نوي ډیلي ویلي، داسې شواهد لري چې په دې حمله کې د پاکستان لاس لرل ثابتوي.

د هند تر ولکې لاندې کشمیر کې د دې خونړۍ حملې مسوولیت جیش محمد ډلې منلی دی، چې مرکزونه یې په پاکستان کې دي.



د پاکستان حکومت په دې حمله کې د لاس لرلو تورونه رد کړي دي او وایي چې د هند حکومت په دې اړه له څېړنو مخکې باید پر پاکستان تورونه ونه‌لگوي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت تېره ورځ ویلي چې په هند کې د پاکستان سفیر یې د سلا مشورو لپاره خپل هېواد ته ورغوښتی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### پنځم څپرکی
### څنګه نوی فکر وکړو؟




دا د زاړه او سنتي ذهنیت بېلګه ده. څوک چې داسې فکر کوي، ذهن به یې لنډ تنګ او دلایل به یې دا وي:
(دا سل کاله چې کیسه همداسې روانه ده، حتمن به څه حکمت پکې وي، همداسې پاتې ښه ده.)
د بدلون خطر ولې ومنو؟
زیاتره خلک پرمختګ بد بولي. د موټر په اختراع خلکو له دې امله نیوکې کولې چې په پلي تګ او آسونو کې یو حکمت دی او موټر هغه حکمت ختموي. الوتکه ډېرو خلکو ته فاجعه وه، ځکه انسان د مرغانو قلمرو ته د ننوتو حق نه درلود. زیاتره (جبرګرایان) اوس هم وایي چې د انسان په فضا کې څه کار؟!
دا پوښتنه د توغندو د چارو یوه کارپوه ځواب کړه : (انسان د هغه ځای دی، چېرته یې چې زړه لګي.)
په (۱۹۰۰) یمو شاخوا کلونو کې د خرڅلاو یوه مدیر (د خرڅلا د مدیریت یو علمي اصل) کشف کړل. دا اصل ډېر مشهور شو او تر درسي کتابونو ورسېد. هغه اصل دا و: (د هر محصول د خرڅولو یوه ښه لاره شته، هغه ښه لاره پیدا کړئ او بیا یې مه پرېږدئ.)
له ښه مرغه د دې کس شرکت ته، په ښه وخت کې ښه رهبري راغله او مالي ماتې یې وژغوره.
اوس دا تجربه د (ای.آی. پونټ دی نومیروس) شرکت د مدیر (کرافورد. ایچ. ګرین والټ) له فلسفې سره پرتله کړئ.
ښاغلي ګرین کولمبیا پوهنتون کې په یوه وینا کې وویل:
(کار په ډېرو لارو کېږي، څومره خلک چې کار کوي، همدومره د کار کولو لارې شته.)
اصلاً په یوه ټاکلې لاره هېڅ یو کار په ښه ډول نه کېږي. د کور سینګارولو، ماشوم روزلو، چمن جوړولو، جنس پلورلو، کباب پخولو ته یوه او ټاکلې لاره نشته. څومره چې نوښتګر فکرونه زیاتېږي، هومره ورسره لارې زیاتېږي او هره لاره ښایي په خپل ځای ډېره ښه وي.
کنګل کې هېڅ هم نه راشنه کېږي. که زموږ ذهنونه رواجونو او سنتونو کنګل کړي وي، نو نوې مفکورې پکې نه راټوکېږي. یوه ورځ تجربه وکړئ، لاندې یوه مفکوره یوه کس ته ورکړئ او غبرګون یې وګورئ.
۱) د پوسټ سیستم له ډېره وخته د دولت په انحصار کې دی، دا باید شخصي سکتور ته ورکړل شي.
۲) د ولسمشرۍ ټاکنې دې، د پنځو کالو پر ځای په دوو یا دریو کالو کې وشي.
۳) مغازې اوس د سهار له اتو د ماښام تر څلور خلاصې وي، دا دې د ماسپښین له یوې د شپې تر نهو بجو خلاصې وي.
٤) د تقاعد عمر دې اویا کلونو ته لوړ شي.
د دې وړاندیزونو منطق او منل مهم نه دي، یوازې ورته د مقابل لوري غبرګون مهم دی. نږدې نوي سلنه خلک ورته هېڅ ارزښت نه ورکوي، که یې ارزښت ور نه کړ یا یې ورپورې وخندل، نو دا کس ښایي د فکري کنګلتیا ښکار شوی وي، خو په شلو کې یو کس داسې پیدا کېږي چې وایي: (ولا جالبه خبره ده، ته لږ نور معلومات راکړه.) که چا داسې وکړل، نو فکر یې نوښتګر او نوښت ته لېواله دی.
زوړ یا سُنتي فکر د نوښتګر انسان لومړنی او کورنی دښمن دی. زوړ فکر ستاسې فکر کنګل کوي. مخه مو نیسي او له خلاقیته ګټې اخیستو ته مو نه پرېږدي. له دې فکر سره د مبارزې درې لارې ښودل شوې دي:
۱) نوې مفکورې درک کړئ، ویې هڅوئ او دا فکرونه ختم کړئ چې: (وبه نه شي)، (نه کېږي)، (ګټه نه لري)، (هسې لیونتوب دی.)
زما یو بریالی ملګری د بیمې یوه شرکت کې په لوړ پوست کار کوي، ماته یې وویل:
(زه دا نه وایم چې کاروبار کې ګني ډېر تکړه سړی یم، خو فکر کوم د بیمې په صنعت کې ښه وړتیا او راښکون لرم. له دې امله مې له ځان سره وویل چې تر خپله وسه به ښې مفکورې رامنځته کوم.)
۲) نوې تجربې وکړئ، پخواني چوکاټونه مات کړئ. نویو هوټلونو ته لاړ شئ، نوي کتابونه ولولئ، نوي فلمونه وګورئ، نوي ملګري پیدا کړئ، په نویو لارو لاړ شئ، رخصتیو کې نویو ځایونو ته لاړ شئ، په اونیزو رخصتیو کې نوي کارونه وکړئ.
که د تولید د وېش په برخه کې کار کوئ، نو تولید، حسابدارۍ او د کاروبار له نورو برخ سره هم شوق پیدا کړئ .دا کار مو دمه کوي او د لویو مسئولیتونو اخیستو ته مو برابروي.
۳) مخکې ځئ، وروسته مه راځئ. داسې مه وایئ چې: (دا کار مې پخوا بل ځای کې په دې طریقه کاوه، دلته هم هماغسې کوم)، د دې پر ځای ووایئ چې: (دا کار تر پخوا څنګه لا ښه کولای شم؟) وروسته پاتې فکر منفي پایلې لري او پرمختللی فکر نوې لارې خلاصوي او مثبتې پایلې راوړي. که تاسې په ماشومتوب کې د غواګانو لوشلو یا ورځپاڼې وېشلو لپاره سهار وختې پاڅېدئ، نو دا په دې مانا نه ده چې خپل بچي به هم اوس هماغه وخت را ویښوئ.
**دوام لري...**

# حضرت صبغت الله مجددي

حکمت ارین



حضرت صبغت الله مجددي د ۱۹۲۵ ز کال د اپرېل په ۲۵مه، په کابل کې د مجددیانو په مشهوره دیني کورنۍ کې زیږېدلی و.
نوموړي د مصر په الازهر پوهنتون کې لوړې زدکړې کړې وې. په افغانستان کې د ثور له کودتا وروسته چې د خلق ډیموکراټیک ګوند قدرت ته ورسېد، په ضد یې د جهاد فتواوې ور کړل شوې او یو او بل ځای خلک پورته شول.
مجددي چې دا وخت په ډنمارک کې و، له هغه ځایه پاکستان ته ولاړ او د ملي نجات جبهې په نامه یې د هغه مهال د حکومت پر وړاندې سیاسي او وسله واله مبارزه پیل کړه.
نوموړی چې د منځلاري ګوند مشر و، ډېری پلویان یې خپل مریدان، قومي مشران او ځینې لوستي روڼ اندي وو، چې پخوانی ولسمشر حامد کرزی هم پکې راځي.
هغه د ولسمشر کرزي د حکومت په دوره کې د کرزي کلک ملاتړی و، خو کله چې د کرزي دوره پای ته ورسېده، نو د اوسني ولسمشر محمد اشرف غني ملاتړ یې وکړ.
نوموړي له څه مودې وروسته پر ولسمشر هم کلکې نیوکې وکړې او اشرف غني یې یو کم تجربه او عقدیي شخص یاد کړ.
مجددي یو نرم مزاجه شخص و، هغه په سپینو خبرو مشهور و، ټولې خبرې به یې ډانګ پېیلې کولې. د بي بي سي پخوانی خبریال او د افغانستان د چارو شنونکی رحیم الله یوسفزی چې له کلونو راهیسې افغان چارې ثاري او مجاهدین یې هم له نږدې لیدلي او ثارلي، مجددي مهربان او منځلاری مشر بولي او وایي، له سیاسي پلوه په ستونزمن وخت کې د مجاهدینو مشران او ښکېل لوري پر نوموړي را ټولېدل.
یوسفزی وایي:
«هغه خوږ سړی و، ډېر پوه هم و، خو هر انسان نیمګړتیا لري او د ده کمزوري دا وه چې ډېر ژر به غوسه کېده او کومه خبره به یې چې په طبعه ښه نه وه، ژر به غوسه شو او دا غوسه به یې څرګندوله».
صبغت الله مجددي په ډانګ پېیلو خبرو مشهور و، خبرو کې ډېر نه تمبېده او ان کله به یې ژر هم قضاوت کاوه.
د بېلګې په توګه، د امریکا له متحده ایالتونو سره یې د امنیتي تړون د جوړې شوې مشورتي جرګې په پای کې، له ولسمشر حامد کرزي وغوښتل چې دا تړون ډېر ژر لاسلیک کړي.
نوموړي ګواښ وکړ که دا تړون لاسلیک نه کړي، نو دی به ژر مهاجرت وکړي. نوموړي د سټېج له سره په لوړ غږ وویل: «زه ژمنه در کوم که تړون نه لاسلیکوې، نو زه به هجرت وکړم».
خو د دغه تړون له لاسلیکولو څو کلونه وروسته نوموړي د مجاهدینو یوه غونډه کې چې پخوانی ولسمشر کرزی هم پکې و، د دغه تړون د بیا کتنې غوښتنه وکړه.
د ۲۰۱۳ ز کال د نومبر په ۲۳مه چې پخواني ولسمشر حامد کرزي له امریکا سره د امنیتي تړون د لاسلیک لپاره لویه جرګه راوبلله، هغه غوښتل چې په دې جرګه کې له امریکا داسې ضمانتونه واخلي، چې نور به افغانان نه وژل کېږي، نه به بمبارېږي او نورې به ټولې دا د افغان وژنې لوبې بندېږي. خو امریکا داسې کوم ضمانت نه ورکاوه، نو ده هم ورسره د امنیتي تړون له لاسلیکولو انکار وکړ. خو له دې جملې یو کس چې ډېر ټینګار یې د دغه تړون پر لاسلیک و، هغه صبغت الله مجددي و.
مجددي د یادې مشورتي لویې جرګې مشر و. د مشورتي لویې جرګې مشر صبغت الله مجددي ویل، ولسمشر حامد کرزی دا حق نه لري چې د افغانستان او امریکا ترمنځ د امنیتي سند لاسلیکېدل وځنډوي.
مجددي وروسته له هغه دا څرګندونې کولې چې پخواني ولسمشر کرزي د همدغې جرګې په پرانیست غونډه کې ویلي وو، که سند ملي شورا تصویب هم کړي، نو له ټاکنو وروسته به یې لاسلیکوي.
مجددي د جرګې په خېمه کې خبریالانو ته ویلي وو: «کرزی صیب هېڅ حق نه لري چې دغه ډول خبرې وکړي. زه وایم چې دی سهوه کوي، اشتبا کوي. ځکه ټولې هغه غوښتنې چې کرزي صیب او موږ لرلې، هغه یې منلې دي».
مجددي همدارنګه ویل چې ښایي پر ټولو مادو بحث پای ته ورسېږي، ځکه چې د سند په مادو کې مهم اختلافات حل شوي دي.
هغه زیاته کړې وه، چې د دغه سند د لاسلیک ځنډول د افغانستان په خیر نه دي، که له دې وروسته نور ځنډ هم ورکوي، دا د افغانستان په زیان دی او موږ ته د قبول وړ نه دی.»
خو ولسمشر کرزي د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر جان کیري سره په خبرو کې یو ځل بیا ټینګار کړی و، چې دغه سند به هغه مهال لاسلیک شي، چې د افغانانو پر کورونو د بهرنیو ځواکونو چاپې بندې شي او امریکا د رښو ټاکنو د ترسره کېدو ضمانت ورکړي.
خو د جان کیري ټینګار بیا دا و، چې دغه تړون باید د روان زېږدیز کال تر پایه چې ایله پنځه اونۍ ورته پاتې وې، لاسلیک شي.
له ارګ نه په خپره شوې خبرپاڼه کې هم ویل شوي وو چې ولسمشر کرزی به د مشورتي جرګې په اختتامیه غونډه کې ټول هغه لاملونه په ګوته کړي، چې دی یې له مخې غواړي د امنیتي تړون لاسلیکېدل وځنډوي.
د افغانستان د خلکو پر کورونو د بهرنیو ځواکونو د عملیاتو بندېدل، د سولې په پروسه کې د امریکا صادقانه همکاري او رښې ټاکنې هغه ټکي وو، چې ښاغلي کرزي یې په مشورتي جرګه کې یادونه وکړه.
له امریکا سره په تړون کې د اختلاف بل ټکی د امریکایي ځواکونو د قضایي پلټنو واک و، چې د مجددي په خبره هغه هم حل شوی و.
نوموړي ویلي وو، امریکایي ځواکونه قضایي خوندیتوب نه لري، خو د ده په خبره، که جرم کوي، نو د امریکا د قوانینو له مخې به په امریکا کې محاکمه کېږي او د محکمې په بهیر کې به افغانان هم حاضر وي.
بالاخره دا سند د نوموړي له ټینګار سره سره کرزي لاسلیک نه کړ، چې له ټاکنو وروسته د اوسني ولسمشر په دوره کې، د ملي امنیت سلاکار حنیف اتمر پرې لاسلیک وکړ او دغه سند یې د افغانستان په ګټه وباله، خو مجددي له څه مودې وروسته په کابل کې وویل چې پخوانی ولسمشر حامد کرزی په حقه و او پر دغه تړون باید له سره کتنه وشي.
مجددي له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۴ ز کال پورې، د روسیې د هغه وخت د لومړي وزیر نیکیتا خوروشوف د وژلو د هڅې په تور بندي شوی و.
له بندي خانې وروسته له افغانستانه ووت او ډېر وخت یې ډنمارک او پاکستان کې تېر کړ.
په ۱۹۹۲ ز کال کې د ډاکتر نجیب‌الله د حکومت له ړنګېدو وروسته، ښاغلي مجددي د افغانستان «اسلامي دولت» د لومړني ولسمشر په توګه د دوو میاشتو لپاره دنده ترسره کړه او د اسلام اباد د هوکړې له مخې یې ولسمشري د جمعیت ګوند مشر برهان الدین رباني ته وسپارله.
د ګلبدین حکمتیار او د جنرال دوستم د ډلو په مشرۍ د همغږۍ شورا په جوړېدو سره مجددي د دې شورا مشري کوله.
د طالبانو د واکمنۍ پر مهال نوموړي ځان له سیاسته ګوښه کړ، خو یو وخت یې د طالبانو او مجاهدینو د قوماندان احمدشاه مسعود د بندیانو تبادله هم وکړه.
نوموړي د خپلې لنډې واکمنۍ او تر هغه وروسته پاکستان د افغانستان په چارو کې په لاسوهنه تورناوه او د طالبانو بریاوې یې د ای ایس ای په مرسته او د هغوی بریا بلله.
هغه وخت نوموړي ویل:
«تر اوسه مې هڅه کوله چې سوله راشي، ځکه مې دا خبره نه کوله، اوس چې طالبان وایي سوله نه کوي، جنګ غواړي، نو رښتیا درته وایم چې دا دومره فتحې چې طالبانو کړې، د پاکستان په مرسته یې کړې دي.»
د افغانستان پخوانی ولسمشر او د ملي نجات ګوند رییس حضرت صبغت الله مجددي د ورپېښې ناروغۍ له امله د ۹۳ کلونو په عمر د ۱۳۹۷ لمریز کال د سلواغې په ۲۳مه، له دې نړۍ سترګې پټې کړې.
تردې وړاندې هم څو ځله د ښاغلي مجددي د مړینې خبر خپور شوی و، چې هر ځل یې د کورنۍ له خوا رد شوی و.
د نوموړي د جنازې مراسم تېره چهارشنبې ورځ، د کابل په غازي سټېډیوم او ارګ کې وشول.
افغان ولسمشر محمد اشرف غني د حضرت صبغت الله مجددي د خدمتونو ستاینه وکړه او هغه یې یو نه هېرېدونکی شخصیت وباله.
دغه راز اجراییه رییس عبدالله عبدالله هم د نوموړي د مړینې په مناسبت، په یو پیغام کې نوموړی د افغان تاریخ یو اغېزمن شخصیت بللی دی. دغه راز پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د نوموړي د مرګ په ورځ د مجددي په کور کې نوموړی یو ملي شخص یاد کړ او زیاته یې کړه، چې مجددي داسې یو شخص و چې د هېوادوالو پر درد دردمن او پر خوښیو یې ډېر خوشحالېده.
صبغت الله مجددي د نقشبندیه طریقت سلسلې له مشایخو و او شیخ احمد سرهندي ته منتسب و، چې په مجدد الف الثاني مشهور دی.
افغان حکومت یې پر مړینه ژور خپګان څرګند او د نوموړي د مړینې په مناسبت یې یوه ورځ عمومي رخصتي اعلان کړه.
په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو، په افغانستان کې د ډیموکراسۍ په پلي کولو کې د مجددي د رول ستاینه کړې وه او پر مرګ یې خواشیني څرګنده کړه.
د نوموړي مړی د کابل په عاشقانو او عارفانو کې خاورو ته وسپارل شو.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٤,٤٥ |
| € | ٨٤,٥٠ |
| Rp. | ٥٣٣ |
| ₹ | ١٠٥٠ |
| ¥ | ١٠,٨٠ |
| £ | ٩٥,٥٠ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - دوبی | 20:45 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# ښه په کاري چاپېريال کې بریالي واوسو؟

ژباړه: امان الله حنيفي

کله چې له پوهنتون څخه فارغ شی او دنده پیداکړی، له دې وروسته مو په اخيستې دنده کې د بريا لاسته راوړل يا هغه حد ته رسېدل مهم دي، چې تاسې د ته رييس يا هغه اداري لخوا ټاکل شوی چې تاسې يې پر دنده گومارلي ياست.

نن ورځ د سيالۍ پر ډگر بدلې شوې نړۍ ته په کتو، پر دې موضوع پوهاوی د ټولو لپاره ضروري دی، چې نن د ټاکل شوې دندې او کار په اړه ښه پوهاوی او ورځ تر بلې هغه په ښه شکل سرته رسول، د بل هر وخت په پرتله ډېر ارزښت لري.

موږ په همدې مقاله کې اته هغه لارې چارې درته ښايو چې پر مټ يې تاسې په خپل کار او دنده کې تر بريا ورسېږی يا يې د دغو لار چار په واسطه ښه ترسره کړی:

**۱ـ ابتکار او نوښت وکړئ**

نن ورځ د لازمو وړتياوو او مهارتونو لرل، د کسب او کار نړۍ شرايط گرځېدلي دي. ودې او نوښت ډېر زيات پرمختگ کړی دی، نن ورځ ډېرې شرکتونه هغو کسانو ته اړتيا لري يا هغه کسان پر دنده گوماري، چې له خطره نه وېرېږي او تل د نوښت کولو په هڅه کې وي.

نن ورځ د دندو اخيستو او ورکولو سيالۍ ته په کتو، کارفرمايان د هغو کسانو په لټه کې دي چې نوي نظريې لري، ابتکار کوي، نوې پروژې پيلوي، نوې حللارې وړاندې کوي او شرکت ته نوي فرصتونه ايجادوي.

**۲- خپله مو خپل کار و ارزوئ**

په دنده او کار کې بريا ته د رسېدو له ښو لار يوه دا ده، چې خپله مو هر ورځ خپل کار و ارزوئ. د کلنۍ ارزونې په تمه مه کېږئ، بلکې هره ورځ مو خپل ځان او له تېرې ورځې سره د کار سرته رسول پرتله او ارزونه يې وکړئ، کوښښ وکړئ چې دا کار خپله ترسره کړی. د دغه کار د سرته رسولو يوه لار دا ده، چې موخو ته د رسېدو لپاره مو زماني جدول وټاکئ. کله مو چې نوی پر دنده پيل وکړ، د ځان لپاره مو لنډمهاله هدفونه وټاکئ. دغو هدفونو ته د رسېدو لپاره، دقيق او منظم پلان جوړ کړئ. هدفونه يا موخې په ورځنيو يا اونيزو برخو ووېشئ، د ورځې يا اونۍ په پای کې کولای شی يو کوچنی د ځان ارزونې فورم ډک کړی او دا پته ځان ته ولگوی، چې اوس کوم ځای کې ياستی او ايا لازمه ده چې موخو ته د رسېدو لاره کې مو کوم بدلون راولی.

حتی که مو وکولای شوای چې د خپل کار رپوټ له خپل رييس سره شريک کړی، دا به تر ټولو ښه وي. په دې سره به مو رييس ته داسې وښيی چې تاسې خپل پرمختگ ارزيابي کوی او دا هرڅه تاسې ته اهميت لري.

**۳- تل د نويو شيانو د زده کړې په لټه کې اوسئ**

د دندې د لا ښه تر سره کولو لپاره بايد تل د نويو شيانو او بيا په تېره د هغو په لټه کې اوسی، چې تاسې ته په کاري چاپېريال کې اړين او ضرور دي. مهمه نه ده چې په کوم پوهنتون کې مو زده کړې کړې دي او يا مو څنگه نومرې اخيستې دي، ځکه ژوند او کار کول له پوهنتون او په هغه کې له اخيستو نومرو سره ډېر توپير لري.



هره ورځ د خپل کار او دندې په اړه يو ميليون پوښتنې وکړئ، کېدای شي د ورځو په تېرېدو سره نوښت وکړی او خپل رييس يا مدير ته داسې وښيی، چې تاسې د اصلاح او پرمختگ په لټه کې ياستی، هرڅه ته اماده ياستی او د نويو شيانو له زده کړې سره بې کچې مينه لری.

**۴- د اړتياوو وړاندوينه مو وکړئ**

د دندې د ښه سرته رسولو لپاره مو بايد د مدير يا رييس له اړتياوو ښه خبر و اوسی. تل له رييس نه يو گام مخکې اوسی او له ځانه وپوښتئ: «که زه د رييس پر ځای وی، راتلونکې مرحله کې به مې کوم کار کړی وی؟» د ښه کار سرته رسولو او کار پر مهال مو، مخکې له دې چې له تاسې يا پوښتنه وشی يا تاسې ته د کوم کار وويل شي، خپل مدير يا رييس ته داسې وښيئ چې له تاسې سره د هرڅه غم دی او تاسې يو ځيرک او زرنگ کس ياستی.

**۵- له نورو سره ښې اړيکې پراخې کړئ**

د اړيکو پراخول د هر کارکوونکي او سازمان د بريا اصلي راز دی. که مو مدير له تاسې وپوښتي چې د هرڅه رپوټ ورکړی، يوازې د دغه رپوټ اماده کول او رييس ته ورکول هغه کار نه دی، چې تاسې يې بايد سرته ورسوی، بلکې تاسې بايد له هغه سره هر وخت اړيکه ولری او هغه ته خبر ورکړی چې کوم څه وخت سرته ورسوی. د مهمو او ضروري کارونو له سرته رسولو وروسته، د هغو کارونو په تعقيب او لټه کې شئ، چې غواړی راتلونکې مرحله کې يې سرته ورسوی.

**٦- موخې مو معلومې کړئ**

دا هېره نه کړی چې تاسې به د سخت يا ډېر کار کولو په بدل کې امتياز نه اخلی، بلکې اخلی به يې. د ورځې په اخر کې هغه څه چې ستاسې رييس ته ارزښت لري، دا دي چې تاسې په کم وخت کې هغه څه لاسته راوړی، کوم چې د شرکت لپاره گټور دي. د هغو موخو په بدل کې بايد تاسې خپل حقوق واخلی چې په لاسته راوړلو سره يې د شرکت پر گټو اغېز کولای شی.

**۷- خبرې مه کوئ، عمل وکړئ**

دا اصل مو په کار او دنده کې تل په ياد ساتی، چې د خبرو کولو په پرتله د عمل کولو ارزښت زيات دی. د هغو کارونو په اړه چې تاسې يې کولای شی، مدير يا رييس ته مو هغه څه په عمل کې وښيئ چې تاسې يې وړتيا لری.

**۸- مهربان اوسئ**

د دې لپاره چې د يو ښه کارکوونکي په نوم وپېژندل شی، بايد مهربانه او زړه سواندي اوسئ او دا درک کړی چې ستاسې رييس او ټول همکاران له تاسې سره پوره مينه لري. بد اخلاقي او تل گيلي کول درته هېڅ گټه نه کوي. د ورځې په اخر کې هر څوک د هغه څه بدله اخلي چې سرته يې رسولي وي، نه هغه چې يوازې يې ويلي او سر يې ترې ټکولی وي.

## مومند: د واټونو د تاريخي نومونو او ارزښت د ساتنې کمېسيون کار پيل کړی دی



د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت ويلي، په ښارونو کې د واټونو د تاريخي نومونو د ساتلو او ارزښت لپاره ځانگړې کمېسيون په کار پيل کړی دی.

د دغه وزارت وياند محمدصابر مومند له ازادي راډيو سره په خبرو کې ويلي، ډېرې واټونه يا بې نومه پاتې دي او يا د داسې کسانو په نومونو نومول شوي چې وړتيا يې نه لري او په خبره يې چې د همدې ستونزې د هوارې لپاره د جوړ شوي کمېسيون له خوا په مقررې، کار روان دی.

نوموړي ويلي: «د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت په چوکاټ کې د بېلابېلو ارگانونو په گډون يو کمېسيون جوړ شوی. د دغه کمېسيون پنځلس ورځنۍ غونډه پيل شوې او د يوې ځانگړې مقررې پر اساس يکې مهم موارد تصويبېږي. د دغه وزارت ټينگار يکې دا دی چې د واټونو تاريخي نومونه دې وساتل شي، په دغه کمېسيون کې د واټونو او ځلورلارو نومونه هم تصويبېږي او بيا د ښاروالۍ له لوري نومول کېږي.»

د ياد وزارت په خبره، هڅه کېږي چې د ښار واټونه د هغو کسانو په نوم ونومول شي، چې د هېواد او خلکو لپاره يې په بېلابېلو برخو کې کار کړی وي او ټولمنلي کسان وي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم د کابل ښار پر واټونو چې تاريخي نومونه لري، جنجالونه شوي دي.

په وروستيو څو لسيزو کې د کابل ښار د ډېريو واټونو اصلي نومونه، په خپل سري ډول د اشخاصو په نوم نومول شوي، چې اړوندې اداري يې هم پر وړاندې غلې پاتې دي.

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت له رسنيو او اړوندو ادارو هم غوښتنه کړې، چې د واټونو د نومونو د عامولو لپاره دې له دوی سره د عامه پوهاوي په برخه کې همکاري وکړي.

## خليلزاد: د سولې په روانو خبرو کې له افغان حکومت سره همغږي يو



د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړې استازي زلمي خليلزاد ويلي، چې د سولې ټول مسايل له يو بل سره تړاو لري او ټولې پرېکړې به د افغان حکومت په محوريت کې کېږي.

په دې اړه له ارگه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې خليلزاد دا څرگندونې ورمه شپه د ولسمشر اشرف غني په مشرۍ له افغان پلاوي سره په ليدنه کې کړې دي.

نوموړي ويلي، د امريکا موخه له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې د گډو همکاريو ترڅنگ، له ډيپلوماټيکو لارو په افغانستان کې د تلپاتې سولې لپاره د هڅو زياتوالی دی، څو د دواړو هېوادونو گټې خوندي او ترڅنگ يې هڅه کوو چې د جگړې لگښت کم شي.

خليلزاد ويلي: «موږ د افغان حکومت او افغانانو په محوريت په افغانستان کې د سولې لپاره جدي يو، خو داسې تلپاتې او پايداره سوله غواړو چې يکې ټول ارزښتونه خوندي شي او څلوېښت کلن بحران پای ومومي».

خليلزاد د سولې په پروسه کې د سيمې ارزښت ته په اشارې ويلي: «موږ د سولې په لټه کې يو؛ ځکه زموږ موخه د جگړې ختمول دي، خو د هر ډول سولې پلوي نه يو».

د نوموړي په خبره، د افغانستان او امريکا حکومتونو ترمنځ د سولې په پروسه کې د ليدلورو او نظر توپير نشته، ټول هغه اقدامات او هڅې چې د سولې په برخه کې شوې، لومړني گامونه دي؛ که څه هم پرمختگونه محدود دي، خو هيله ښونکي دي او هيله لرو چې له افغان حکومت او خلکو سره په همغږۍ ښه پرمختگونه وکړو.

نوموړي دغه راز ويلي: «موږ له طالبانو سره په ډېرو غونډو کې پر څلورو موضوعاتو لکه، له القاعدې سره د طالبانو د اړيکو پر څرنگوالي، د امريکايي عسکرو د حضور، له افغان حکومت سره پر مستقيمو مذاکراتو او سراسري هر اړخيز او دايمي اوربند بحث کړی او تر هغې چې پر څلورو واړو موضوعاتو موافقه نه وي شوې، پرمختگ نه شو ورته ويلای».

مسير ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ايډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
ليکوالان: محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال
او شفيق همدرد
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
گرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايگل چاپ ٠٢٠٢٥١٢٦٢٦
٠٧٨٢٩٨٩٦٩٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

